# د کابل ښار
# لمړي ګمرک
# اداری


# ودانی معماري

لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

پیخلیک: مرغومی / کال ۱۴۰۶ لېږدی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري

**لیکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**ایډیټور:**

**د پخښتۍ ډیزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** مرغومی / کال ۱۴۰۶

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

**برېښنالیک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لړليک

| سرليک | چوپړی |
|---|---|

پېښتې ............................................................................... ۱
بسم الله الرحمن الرحيم............................................................ ۲
ليکي پوهه: .......................................................................... ۳
لړليک.................................................................................. ٤
تړانۍ (پيل، شروع، بريد) ........................................................ ٦
د يادښتونو له پاره: ............................................................... ۸
ګمرک: ............................................................................... ۱۰
د ګمرک تعريف: ................................................................... ۱۰
په عمومي توګه ګمرکونه:....................................................... ۱۱
د ګمرک پېښليک په افغانستان کې:........................................... ۱۲
ستراتيژيکي موخې: ................................................................ ۱۵
د ودانۍ معماري: ................................................................... ۱۷
د ودانۍ تهداب:...................................................................... ۱۷
لمړي پوړ خونې: ................................................................... ۱۸
دوېيم پوړ خونې: ................................................................... ۱۹
زينه: .................................................................................. ۲۰
دېوالونه: ............................................................................. ۲۲
لمړي پوړ غولي: .................................................................... ۲۷
لمړي پوړ دالان:..................................................................... ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمړي پوړ چت: ............................................................. ۲۹
دوېيم پوړ:................................................................ ۳۰
دوېيم پوړ چت: ............................................................ ۳۱
د ودانۍ سر تاکونه (سر تاقونه):............................................ ۳۹
دروازې او کړکۍ: ........................................................... ٦۹
پايله:..................................................................... ۷٦
د چاپ شويو کتابونو لېست.................................................. ۷۸
د کار لاندې کتابونو لېست .................................................. ۸۳
د امکان او وخت په صورت کې ............................................... ۸٤
د پخټی ځټ................................................................. ۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې و غوښتل د کابل ښارلمړي ګمرک اداري ودانۍ معمارۍ په هکله نوي او ځوان نسل ته څه ولیکم تر څو هغوی په زیر سره مطالعه او راتلونکی نسل ته یې وړاندې کړي.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې دېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال دېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري

..................................................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پیژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادونه:**

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شریکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یادښتونو له پاره:

۱- ................................................................

۲- ................................................................

۳- ................................................................

۴- ................................................................

۵- ................................................................

۶- ...............................................................

۷- ...............................................................

۸- ................................................................

۹- ...............................................................

۱۰- .............................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زړې و دانۍ مه ورانوئ

# هغه د سرو زرو پـه شان دي

# پـه هغو کې زمونږ د نيـکونو علمي تجربې نغښتې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګمرک:**

ګمرک د ټولو هیوادونو یوه له مهمو سازمانونو څخه دی چې اقتصادي او مالي اړخ لري، که موږ وغواړو په رسمي توګه معرفي کړو، موږ کولی شو لاندې تعریفونو ته مراجعه وکړو.

**د ګمرک تعریف:**
نړیوال ګمرکي لغت دا په لاندې ډول تعریفوي:

ګمرکونه یوه دولتي اداره ده چې ټول ګمرکي قوانین پلي کوي، محصولات او مالیات راټولوي، همدارنګه د ټولو قوانینو او مقرراتو پلي کول، مسؤلیت لري چې د توکو د وارداتو، صادراتو، او همدارنګه د دوی ذخیره کولو او هر ډول حرکت له پاره باید پلي شي.

**د ګمرکونو قانون او مقررات په لاندې ډول تعریف کیږي:**

په افغانستان کې ګمرکونه د ټولو مقرراتو د پلي کولو او د ټولو ګمرکي بودیجو د راټولولو مسولیت لري، همدارنګه ګمرکونه د نورو مقرراتو او قوانینو د پلي کولو مسولیت لري چې د مالونو د واردولو، بهر او لیږدولو یا ذخیره کولو مسولیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ګمرکونو د همکارۍ شورا په لاندې ډول تعریف کېږي:**
ګمرک یوه حکومتي یا دولتي اداره ده چې د ګمرکي قوانینو پلي کولو، د وارداتو، صادراتو محصولاتو، مالیاتو راټولولو او همدارنګه د وارداتو، داخلي ترانزیټ او د توکو صادرولو له پاره کار کوي.

**په عمومي توګه ګمرکونه:**
دا د توکو وارداتو او صادراتو څارنه کوي ترڅو د واردونکي او صادرونکي له خوا قانوني اړتیاوې پوره شي.
دا واردات او صادرات څاري ترڅو اړین محدودیتونه او ممانعتونه مشاهده شي.
که د محصول مشخصات پوره شي، اړین تخفیفونه او معافیتونه به په واردونکي یا صادرونکي باندې پلي شي.
د صادراتو او وارداتو په برخه کې، هغه څارنه کوي چې ټول محصولات او مالیات چې ټاکل شوي په سمه توګه ترلاسه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د گمرک پېژلیک په افغانستان کې:**

افغانستان یوه داسې هېواد دی چې څه د پاسه پنځه زره کلن تاریخ لري، مذهبونه، بېلابېل کلتورونه، ستر تمدن، د علم او فرهنگ دودونه لري.

که د افغانستان د تاریخ پاڼو ته وگورو نو څرگنده به شي چې دا لرغونی هېواد د وربښمو د لارې د تجزیې مرکز او د هند، چیني، فارسي او عربو سوداگرو د تګ راتګ مرکز و.

د هغه وخت د گمرکونو پر بنسټ د خپلو مالونو اندازه باید د هغه وخت واکمنانو ته د هر بار، هر مقدار په بدل کې ورکړل شي.

هماغه اندازه نغدي پیسې او مالونه چې د گمرکي محصول په توگه اخیستل کیدل په مختلفو دورو کې، په مختلفو نومونو پیژندل شوي، لکه د سړک دری، دروازی دری، شهری دری، تنگی پولی، سرابی نجات ۶۱، ۴۱، لس ۱ او داسی نور.

بالاخره د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ (۱۲۹۶ــ۱۲۴۰ق)(۱۸۲۵ــ۱۸۷۹م) پر مهال د گمرک دفتر د چپوترینه په نوم یاد شو او تر ډېره وخته به د گمرک عواید د یوې لسمې برخې په اساس راټولېدل.

د بېلگې په توگه، د غنمو له لسو توپونو څخه یوه گول د محصول په توگه او کله ناکله په نغدو پیسو هم اخیستل کېده.

هغه محصول چې د دې سرلیکونو لاندې اخیستل شوی و د عاید ټول اړخونه یې درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوداګرو طبقه باید په هر بندر کې مالیه ورکړي، د ټرانزیټ مالونو سربېره، د کورنیو تولیداتو مالونه چې له یوه ښار څخه بل ښار ته لیږدول کیږي، د مالیې ورکولو تابع دي.

د بېلګې په توګه:

که د توکو اندازه کابل ته راورسېده، د محصول په موخه به د کابل ګمرک ته لیږدول کېده او د "شریعت" په نوم محصول به د هر بار یا مقدار په بدل کې له امر څخه اخیستل کېده.

د امیر عبدالرحمن خان او حبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال د ګمرک وضعیت له ځینو بدلونونو پرته بدل نه شو.

خو په ۱۳۰۰ هجري لمریز کال او د مرحوم غازي امان الله خان د واکمنۍ له پیل سره سم په افغانستان کې د ګمرک وضعیت د پخوا په پرتله بدل شو، د کار د اسانتیا او د خلکو د اسانتیاوو په موخه(خاطر)، محصولات یوه ځای راټول او و ویشل شول، په سمه توګه د سیمو او ولایتونو د پرمختګ له پاره.

د ګمرکي چارو د پلي کولو له پاره د ګمرکي محصولاتو د راټولولو مقررات او د مختلفو توکو ګمرکي تعرفې ترتیب او چاپ شوې او د حسن افندي په نوم یوه ترکي کس د ګمرک د کارکوونکو د روزنې له پاره وګومارل شو.

له هغه وروسته دغه محصول د نغدو پیسو په بڼه د دولت خزانې ته د حسن افندي له خوا معرفي شو، چې په هغه وخت کې د ګمرک د رئیس په توګه ټاکل شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تیرو وختونو کې د ګمرکي محصول راټولول په لاندې څلورو سرلیکونو کې رامینځته شوي وو.

۱ - داخلي (واردات)

۲ - لګښتونه (صادرات)

۳ - ترانسپورت

٤ - مالونه (کورنۍ تولید شوي توکي یا هغه توکي چې د هیواد د ننه لیږدول کیږي).

دغه سیستم په ۱۳۰۳ او ۱۳۰۵ هجري لمریز کال کې د نادرشاه د واکمنۍ پر مهال له دوو اصلاحاتو وروسته چاپ او تطبیق شو او تر ۱۳۱۳ کال پورې پلی شو.

په ۱۳۱۳ کال کې د سوداګرۍ وزارت د ګمرکونو او تعرفو مقررات ترتیب او د تعرفو د راټولولو له پاره یې عملي او د ګمرک محصول چاپ کړ.

**نظر:**

نظر دا دی چې د عوایدو راټولولو، سوداګریزو اسانتیاوو، د سرحدونو مدیریت او د ټولنې ساتنې په برخه کې په سیمه کې د نمونې ګمرک دفتر په توګه ودریږي.

**دنده:**

په سمه او شفافه توګه د مطلوبو عوایدو راټولول، د اقداماتو له لارې د ټولنې ساتنه، په سرحدونو کې اغیزمن او ګټور او همغږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدیریت، د قانوني سوداګرۍ له پاره د اغیزمنو اسانتیاوو سره د سوداګرۍ او صنعت وده کې مرسته کول، د ګمرکي طرزالعملونو او پروسو ساده او همغږي کول.

د ګمرکونو کنترول او د ګمرک کارمندانو پیاوړتیا پیل کول، د طرزالعملونو د شفاف تطبیق په اړه د کارمندانو صادقانه کړنو ډاډمن کول ترڅو هیواد د ځان بسیا او مالي ثبات سره مرسته وکړي.

**ستراتیژیکې موخې:**

**د قانونیت پیاوړتیا:**

د ګمرکي قانون، مقرراتو او طرزالعملونو سره سم د کارمندانو او سوداګرو د قانونیت او فعالیت د پیاوړتیا له پاره د پراختیایي پروګرامونو پلي کول.

**د سوداګرۍ اسانتیاوې:**

د فرصتونو د پراخولو او د سوداګرۍ د اسانتیاوو د زیاتولو له پاره د مناسب کاري چاپیریال د رامنځته کولو له پاره د مناسبو ستراتیژیو او پروګرامونو جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د دفتر اغیزمنتوب ته وده ورکول:**

د ګمرکونو د عمومي ریاست د موثریت او اعتبار د پیاوړتیا او زیاتولو له پاره د ښې حکومتولۍ د ستراتیژیو او پالیسیو جوړول او پلي کول.

**د عوایدو راټولول:**

د عوایدو راټولولو او کنټرول میکانیزم بیا کتنه او د عملیاتي میتودونو او پروسو ښه کول ترڅو د عوایدو راټولول په اعظمي حد کې زیات شي.

**ستراتیژیک لید:**

د عوایدو تحرک او اعظمي کول او د دولت د مالي چارو مدیریت ترڅو قانوني سوداګرۍ وهڅوي او په مؤثره توګه د سرحدونو کنټرول خوندي کړي او د ټولنې ساتنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ودانۍ معماري:**

دا ودانۍ په دوې پوړو کې د اومه (خامو) خښتو دېوالونو او لرګيو پوښښ نه جوړه شوی چې عمومي اوږدوالی يې پخوا (۴۷ متره) او سور يې ( ۹,۲۲متره) وه.

خو په سيمې کې د نوې ودانې جوړول د هغه يوه برخه يې ورانه کړي چه په او سني حالت کې د هغه شتون (موجوده) اوږدوالی (۳۸ متره) دی.

**د ودانۍ تهداب:**

د ودانۍ تهداب د غره له تيږو او يا ډبره ځخه کار شوی او د پاسه يې لرګي اچول شوي دي چې په اوسنۍ معماری کې ورته رنګ بيم وايي شتون لري چې د هغه وخت د ماهرو معمارانو او استادانو له خوا په پام کې نيول شوي وو.

اوس محال دا سنګ کاری يوائې يوې خوا د شلو سانتيو په اندازه ښکاري، کيدای شي د ساحې په اوارکارۍ (هموارکارۍ) کې تر خاورو لاندې شوې وي.

خو بله خوا سنګ کاري دېوال تر ۶۰ سانتيو (شپېتو) پورې د خاورو لاندې شوی دی اومونږ کولای شو په اسانه توګه يې په سترګو و وينو.

که چېرې مونږ دا ودانۍ د کابل ښار د مرادخانۍ او زاړه ښار سره پرتله کړو، کولای شوو و وايو چې دا ودانۍ هم ببخ (غرقه) لري، مګر نه شو کولای چې د غرقې له پاره ژورې کيندنې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لمړي پوړ خونې:**

د ودانۍ په لمړي پوړ کې یوه اوږد دالان (ګالري) او شپږ خونې چې یوه یې ترټولو لویه او د ودانۍ په اړخ کې شتون لري، چې اوس محال د خوراکي توکو ګدام په توګه ترې کار اخیستل کیږي.

یوازې دوې خونې دالان خوا ته یوه د لرګي ور(دروازه) او یوه کړکۍ لرې، خو نورې ۵ (پنځه) خونې انګړ خوا دروازې او کړۍ یوه ځای لري چې په دري ژبې کې ورته دروازه بالدار وايي، شتون لري.




**لمړي پوړ نخښه (نقشه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوېیم پوړ خونې:**

په دوېیم پوړ کې د لمړي پوړ په شان خونې شتون لري، د یادونې وړ ده چې د ودانۍ په لوېدیزې خوا کې یوه کوشنۍ کوټه شتون لري کومه چې د شپې د اوسېدو ځای او تر اړخ یې یوه حمام هم دی.

که چېرې مونږ د دې خونې دېوالو سور(سیور، بر یا عرض) ته وګورو داسې سوچ کولای شوو چې دا دېوالونه وروسته جوړ شوې وي، ځکه دا خوب خونه د یوې کوټې نه بلې ته لار لري.

بیا حمام یې هم د همدې خوب خونې نه، دروازه لري، د دې خوب خونې او حمام خونې دېوالونو سور(سیور، بر یا عرض یې) ۱۲ (دولس) سانتي متره دي.

د خونو تودلو پاره په لنډو دیوالونو کې د بخارۍ ځایونه په پام کې نیول شوي دي.



**د دوېیم پوړ نخښه (نقشه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زينه:**

د ودانۍ په يوه اړخ کې لرګي زينه شتون لري چې په لاندې انځور کې يې په ښې توګه کتلی شو، خو دا زينه اوس د استفادې وړ نه ده ځکه يوه ورځ د کرن لګېدل د ودانۍ اړخ سره درزونه را منځ ته کړي، چې استفاده يې ستونزمنه کړې او د خطرې سره مخ کړې ده.

د زينې سور(سيور يا بر) يې ۱۱۳ - ۱۵۵ سانتيو پورې ده او د هر يوې پټې اوچتوالی يې ۲۰ سانتي او پلنوالی (عرض) يې ۳۰ سانتي متره دی.

اوس محال د دوېيم پوړ ګټه اخيستني (استفادې) له پاره لږ لري يې بيا بله نوې اوسپنيزه زينه جوړه شوې، چې دهغې نه خلک ګټه پورته (استفاده) کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**ودانۍ د زینې مخامخ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دېوالونه:**

په ودانۍ کې ټول دېوالونه د لمړي او دوېیم پوړ له اومه (خامو) خښتو نه جوړ شوي دي چې د کتارونو او خښتو په منځ کې د ختو مساله (مصالح) نه کار اخیستل شوی دی.
په ودانۍ کې مونږ درې ډوله دېوالونه لیدلی شوو:

۱. اوږده دېوالونه کوم چې سور(سیور یا بر) یې۷۰ (اویا) سانتي متره دي.

۲. لنډ یا د لنډو دېوالونه کوم چې سور(سیور یا بر ) یې ۴۵(پنځه څلوېښت) سانتي متره دي.
۳. کوشني (پارتېښن) چې سور(سیور یا بر) یې ۱۲ سانتي متره دي.

په اوږدو دېوالونو کې کړکۍ او در وازې ایښودل شوي او په لنډو دېوالونو کې د هرې کوټې له پاره د الماریو ځایونه پرېښودل شوي چې د الماریو په ځایونو کې اوس مهاله د لرګي الماری شتون لري.

د اومه (خامو) خښتو اندازې په لاندې ډول دي:
۱. اوږدوالی ۳۰ سانتي متره
۲. سور(سیور یا بر) ۱۵ سانتي متره
۳. لوړوالی (ضخامت) ۵ سانتي متره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوالونه د باندې خواوو نه اخېړ شوي چې د اخيېړ پلنوالی (ډبلوالی) يې ۲ (دوې) سانتی متره بيا په سپينې خاورې يا چونې سره سپين شوي دي.
خو دا دېوالونه د ننه خواوو نه وروسته تر اخېړ د چونې، اوبو اوشګې ترکيب څخه پلستر شوي او بيا په چونې سره سپين شوي دي.
د چونې پلستر کېدای شي د حشراتو په نه ځای اخيستو او له منځه وړلو کې ډېر ګټور تمام شوي وي.




**د ودانۍ د اومه (خامو) خښتو اندازې نخښه (نقشه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ پریک ( قطع یا برش) نخښه (نقشه)**

د ودانۍ لمړي پوړ دالان سور (سیور یا بر) یې ۲,۶ متره ده چې د په مخ په کتار (قطار) کې یې لرګي ځلور اړخه (چهار ضلعییا چهار تراش) کارول شوي چې ټول یې ۴ (ځلور) ستنې (پایې یا کالمونه) لري او اندازه یې ۱۷x۲۰ (اووه لس په شلو) سانتیو کې دي.

کېدای شي په پخوا پېر کې دا ستني لکه دوېیم پوړ، شتون درلود او د وخت د اړتیا سره سم دروازې او کړکۍ مخې ته راویستل شوې او جوړې شوې وي، لاندې انځور د پورتنۍ خبرې پخلی کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ اوږد لید انځور**

د ستنو(پایو) اوچت والی یې (۲,۶متره) د ستنی سر او لاندنۍ برخې سره چې په دری کې ورته ( سر ستوني او زیر ستوني) وایي، ده.

د ستنې سر(سر ستوني) او د ستنې لاندې (زېر ستوني) کوم چې د ستنې (پایې) پر مخ کلک شوې ده، ۱۵ سانتي (پنځه لس سانتي) متره ده چې د ستنې په څلورو خوا کي چاپېر شوي او د مېخونو په ذریعه وصل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د لمړي پوړ ستنې نخښې (نقشې) اندازې**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د لمړي پوړ ستني انځور**

## لمړي پوړ غولي:

که چېرې مونږ ودانۍ ته ننوزو او ځمکې ته وګورو داسې ښکاري چې ځمکه یې وروسته له جوړېدو څخه پر خاورو ډکه شوې، بیا ټپک شوې او وروسته کانکریټ شوې ده، خو کېدای شي په لمړي پړاو کې د چونې او شګې شفته اچول شوې او بیا وروسته د شګو او سمنټو سره کانکریټ شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد کانکریټ په خونو (اتاکونو، اتاقونو) او دالان (دهلېز) کې اوس هم کتلای شوو.

**لمړي پوړ دالان:**

د لمړي پوړ دالان یواځې دزینې خوا ته شتون لري، د دې دالان سور ۲,۶ متره ده، بیا هغه نه وروسته کوټې پیلیږي کومې چې دروازې یې کوشني دالان خوا ته، دي.



**د لمړي پوړ د ستني لاندنۍ برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لمړي پوړ چت:**

د لمړي پوړ په چت کې ډېر غټ قطر لرونکي ګردو لرګېو نه استفاده شوې چې ګردوالی (قطر) ۲۰ (شل) سانتي ده او دا لرګي په یوه متر کې درې دانې اچول شوي دي.

بیا د لرګو پرسر پوزی وروسته، نلونه (نی) اچول شوي دي، خو د لاندې خوانه ټولې کوټې د ارچه لرګیو څخه ښه او ښکلې مسطح لري، او فېروزه یې غوړ رنګ باندې شوي چې په لاندې انځورونو کې یې، په ښه ټوګه (شان) کتلی شوو.

وروسته د نی د پاسه خټه (غوره ګل) بیا وچه خاوره بیا وروسته دا خاوره ټپک شوې او د پاسه یې کانکرېټ چې بر(عمق) یې ۷ (اووه) سانتیو ته رسیږي، ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوېیم پوړ:**
دوېیم پوړ پر دوې برخو وېشل شوی دی:

**۱.** اوږد دالان (ګالري)
**۲.** خونې یا کوټې

۱. **اوږد دالان:**
د دوېیم پوړ دالان (ګالري) هم د لمړي پوړ په شان ده.
د دې دالان سور (بر، سیور یا عرض) یې ۲۶۰ (دوې متره او شپېته) سانتي متره دی چې مخې ته یې ټولې ۱۲ دولس ستنې( پایې) ښکاري چې د ستنو او یا پایو تر منځ اندازې یې ۲۰۰ (دوې سوه) سانتې متره دي.
د یادو ستنو(پایو) سور (سیور، بر یا عرض) ۱۰ سانتی او اوږدوالی یې ۲۰ سانتی متره دي.
د ستنو یا پایو اوچت والی او شکل د لمړي پوړ په شان دي چې دا ټولې ستنې د افغانستان غرنیو نښترو(ارچه) لرګیو ګوردم (ګردم) څخه تراشې شوې دي.
دا ستنې یا پایې رنګ شوي چې رنګ یې روښانه کهویی (قهویی) دي.
د ستنو سر او لاندې برخه سره ورته او هم د لمړي پوړ په کواره (قواره، شکل) سره دي.

څرنګه چې یاد شو، دا ستنې د دالان په اړخ کې دي او د لوېدو د مخنوي له پاره د دوو ستنو تر منځ اوسپنیز نل (پایپ ) کارشوی دی چې په لاندې انځور کې یې، په روښانه ټوګه لیدلی شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نل دوې کتاره او په مناسبو فاصلې سره کارول شوي او کولاى شي د لاندې ولېدو مخه ونيسي.

**دوېيم پوړ چت:**

د دوېيم پوړ په چت کې هم ډېر غټ قطر لرونکي ګرد لرګې استفاده شوي چې ګردوالى (قطر) ۲۰ (شل) سانتي متره ده او دا لرګي په يوه متر کې درې دانې اچول شوي دي.
بيا د لرګو پر سرپوزي بيا نلونه (نى) اچول شوي دي، خو د لاندې خوانه ټولې کوټې د ارچه لرګيو څخه ښه او ښکلې مسطح لري.
بيا د نى د پاسه خټه (غوره ګل) بيا وچه خاوره، وروسته دا خاوره ټيک شوې او د پاسه يې ګاه ګل ښکاري.
خو د کاګل د پاسه د ګول يا ګردو لرګيو څخه قيچې پوشش جوړ شوى او د پاسه يې د اوسپني ګولک لرونکى څادر ښکاري.

دا بام دوو خواوو ته غير مساوي ميلان لري چې په يوې خوا کې يې غاړې لرونکى ناوه (ناوه لبګرد) چې د خاصو چنګکونو سره د بام په تيرانو کې کلکه شوې ده، شتون لري.

د ياد شوې ناوې بيا خصي ناوې کوزې شوي چې په پخوا وخت کې اوسپنيز څادر نه وې، ولې د وخت په تېرېدو سره هغه ويجاړې شوي او بيا په اوس وخت کې هغه ته پلاستيکي يا پي وي سي خصي ناوې لګېدلي (نصب شوې) دي.
پر سېره پر دې چې د دې ودانۍ نه څه کم ۳۰۰(درې سوه) کاله تېر شوي، خو ټول لرګې يې سم، روغ او رمټ تر ستر ګو کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ښيي چې کېداى شې ياد لرګي پر کومو خاصو تېلو او غوړيو سره، غوړ شوې وي.
خو اوسپنيز ځادرې د وخت په تېرېدو او نه پاملرنۍ له امله زنګ وهلۍ او سوري شوي دي.

د اوسپنيز ځادر په ځينو ځايونو کې د تېرې شويو مجاهدينو خپلمنځي جګړو له عمله په مرميو او نورو ثقيله غټو مرميو چرور(پارچو) سره، سوري شوي دي.



**د دوېيم پوړ د بام نخښه (نقشه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د دوبیم پوړ ستنې یا پایې لاندنۍ برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د دوهیم پوړ ستنې یا پایې برنۍ یا پاسنۍ برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ مخامخ لید انځور**



**د ودانۍ مخامخ لید نخښه (نقشه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ودانۍ سر تاکونه (سر تاقونه):**

که چېرې مونږ د ودانۍ نړېدلې برخې ته په ځیر سره وګورو د پخوانیو ودانیو په سل ګونو رازونو باندې پوهېږو.
د دې ودانۍ سر تاکونه (سر تاقونه) د ډېرو غټو قطر لرونکو لرګیو سره، تر سترګو کیږي.
دا لرګې تر اوسه هېڅ کومه صدمه نه ده لیدلې او نه هم کویا او نورو حشراتو خوړلې دي.
د لاندني انځورونه نه، داسې ښکاري چې دا سر تاکونه (سرتاقونه) پر اومه (خامو) خښتو نه دي ایښودل شوي بلکې د خښتو د دېوال پر سر په لنډو تیرانو باندې ایښودل شوي او بیا کلک شوي نو ځکه روغ او رمټ پاتې شوي دي.

دا سرتاکونه (سر تاقونه) د اومه (خامو) خښتو او خاورې سره تماس نه لري که نه خاوره داسې یوه عنصر دی چې د وخت په تېرېدو سره کولای شي نورو ودانیزو مواد ته زیان (نقصان) ورسوي او له منځه یې یوسې، دا طریقه د چتونو دستک لرګو د پاره هم په پام کې نیول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ يوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

**د ودانۍ قیچي پوښښ:**

د ودانۍ قیچي پوښښ ډیر قدیمي او نویو ودانیو په پرتله ډېر اوچت دی، د قیچې منځنۍ ستنې لوړوالی (اوچتوالی) یې تر ۱۰۰ سانتی (یوه متره) ډېر دی، پر لاندې تېر(زېر تېر) باندي کلک شوی او د پاسه یې سر تېر اچول شوی او کلک شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سر تیر د پاسه بیا نور تېران چې ورته د قیچی وزر (بال) وایي کلک شوی دي، بیا د قیچي د پاسه نور گرد لرگی (دستک) اچول شوی چې ورته شده بندی وایي، د دو لرگیو قطر د نورو پر پرتله لږ دی.

دا شده بندی د ۴۷ ساتیو نه تر ۵۰ سانتیو پورې د قیچې پوښښ پر وزرو(بال) باندې کلکی شوي چې د پاسه یې گولک لرونکی اوسپنیز څادر کارول شوی دی.

د ولاړې ستنی (مونه) اندازه د لاندې تېر په گډون ۱۵۰ سانتی متره او د سر تیر سره ۱۶۰ سانتي متره ده.

بیا تولہ اندازه (اوچت والی) یې د بام نه تر اوسپنیز څادر سر پوري ۱۹۰ سانتي متره ده.
د ژورو مالوماتو (معلوماتو) د پاره د پریک (قطع) نخښه (نقشه) او تصویرونه کوم چې په دي کتاب کې راغلي دي، لیدل یې آسانتیاوې منځ ته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ يوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ يوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ يوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ شا (څټ) لید انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ شا (څټ) لید نخښه (نقشه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ شا لید یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ شا لید یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ شا لید یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ شا لید یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ مخ لید یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ مخ لید یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د ودانۍ مخ لید یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**ودانۍ د دالان (ګالري) یوې برخې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دروازې او کړکۍ:**

د دې ودانۍ ټولې دروازې او کړکۍ د هېواد د ارچه لرګيو څخه دي او په کيفيت سره جوړې شوي دي.

بيا وروسته ټولو دروازو او کړکيو ته د دواړو خواوو نه سپين غوړ رنګ ورکړشوی دی.

د دروازو او کړکيو اندازو پوهاوی له پاره لاندې نخښې (نقشې) جوړې شوي او د دې کتاب په پاڼو کې ځای پر ځای شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ د یوې دروازې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ د يوې دروازې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ د یوې دروازې انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ لمړي پوړ دروازې / کړکۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ دوېيم پوړ کړکۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د ودانۍ لمړی پوړ کړکۍ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پایله:**
د یادې ودانۍ په هکله چې د چارو ادارې په ۰۵ سیمې کې شتون لری بیلا بېل اندونه او نظرې کولای شو تر څېړنې لاندې و نیسوو:

**۱.** د ځینو خلکو په وینا دا ودانۍ د امیر شېرعلی خان په زمامدارۍ کې جوړه شوې او د هغه په لمړي پوړ کې فیلان ساتل کېدل نو ځکه د کابل په فیل خانې ماڼې یادېده چې عمر یې تر سلو کلونو نه ډېر دی.

ځینې نور بیا وايي:
د ودانۍ په لمړي پوړ کې د کاروانونو فیلان ساتل کېدل کوم چې د بارونو تعرفي به یې په ګمرک کې تحویلوې.

د ودانۍ اوسنی حالت نه شي کولای د پورتنۍ خبرې پخلی وکړي ځکه داسې کومې نخښې او نشانې په دروازو سور،او اوچت والي کې نه په ستروګو کېږي.

**۲.** د ځینو خلکو په وینا دا ودانۍ د تېمورشاه درانی په زمامدارۍ کې جوړه شوې او د هغه په لمړي پوړ کې د مالونو ګدامونه او دوېیم پوړ کې یې ادراي خوني (دفترونه) وو.
خو د دې ودانۍ ته مخامخ بله ودانۍ شتون لري چې هغه د ګدام په توګه کارېده، کومه چې اوس هم د لوی ګدام په توګه کارول کېږي.
د ودانۍ سیمه پخوا د مرادخانۍ یوه سیمه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ښار لمړي گمرک اداري ودانۍ معماري

..................................................................

چې د مراد خان په معمارۍ جوړه شوې او ځيني فېروزه يي رنگونه په کې کارشوي، چې دا رنگونه د مراد خانۍ سيمې د ميداني جومات په چتونو او ارسيو(کړکيو) کې کتلای شوو.

بله موضوع چې مونږ د دوېيمې خبرې ته نږدې والي راوالي هغه دا ده چې د ودانۍ دوېيم پوړ دالان (گالري) مخې ته، د نلونو کارونه د دوو ستنو تر منځ، کوم چې د کابل په زاړه ښارکې تر ۳۰۰ (درې سوه) کلونو او مراد خانۍ کې چې تر ۲۷۰ کلونو پورې شاه ليد (قدامت) لري، يادو سيمې د بامونو لرگي کټارې دي چې په کې اوسپنيز سيخان کارشوي دي.

که چېرې دوېيمه خبره رښتيا وي نو د دې ودانۍ عمر د مرادخانۍ په څېرهم تر ۲۷۰ کلونو، ډېر دی.

د دې خبرې پخلی هم آسانه کار نه دی.

د دواړو خبرو پخلي له پاره ډېرو څېړني ته اړتيا شته او ځه په خپله نه شم کولای د کومې خبرې پخلي وکړم.
خو زما د څېړونو پر بنسټ ياده دوې پوړه او د هغه مخي ته لوی گدام تر سلو کلونو ډېر عمر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلایي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار

۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت

جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

۲۱. جام یا کلیان ( کلان)

۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول

۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم

۲۴. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم

۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)

۲۶. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،

۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)

۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)

۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)

۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی

۳۱. هنر و پیشه حکاکې - زرگری در مرادخانی

۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)

۳۳. معماری اصیل شهر کابل

(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)

۳۴. ۴۰- چهل

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۵. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)
۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپېلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو ښونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥۲. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او انجینیرانو(انجنیرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خوارې ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې ناوې (پښتو ناول)
٦١. دخاخکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)
٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېره (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الماء [دیارلس کلنه فلسطینۍ انجلۍ تر نړېدلې ودانۍ (پښتو ناول)]
٧٩. مجموعه از دروس دینی مولوي صاحب خیرالله مخدوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(جلد پنجم)
۸۰. ادبي لښتې / چوب ادبی
۸۱. د ښاروالۍ کاریګر (پښتو ناول)
۸۲. د خاورو لاندې ښار (د عینک مسو کان ته څېرمه)
۸۳. شهری زیر خاک (نزدیک معدن مس عینک)
۸۴. ساختمان های کانتینری
۸۵. کانتینري ودانۍ
۸۶. Architecture of Buddist temple in Kabul city
۸۷. ښکلې هوسۍ (پښتو کیسه)
۸۸. خړه بیزو(پښتو کیسه)
۸۹. سور تنور(پښتو ناول)
۹۰. سپین کارغه (پښتو داستان)
۹۱. لېونۍ لېوه (پښتو داستان)
۹۲. بندي مرغه (پښتو داستان)
۹۳. بې وخته سېلاب (پښتو ناول)
۹۴. ملا نصرالدین سره د دوکې پایله (پښتو ناول)
۹۵. د پوی بهلول غوره پرېکړه (پښتو داستان)
۹۶. د کابل ښار لمړي ګمرک اداري ودانۍ معماري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. هنر خطاطی و میناتوری در مراد خانی
۲. هنر کلالی در مرادخانی
۳. بې وخته باران
۴. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Architecture of Kabul's first customs administrative building

Written by: Architect PHD Hashmatullah Atmar

Date: Junury -Feberuary / 2028

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**